# التين

**مکی سورة دی ۸ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١

**قسم په انځر او زيتون( او د دغو ګټورو ميوو د پيدايښت په سيمه شام او  بيت المقدس چې د ابراهيم عليه السلام نه نيولې تر عيسى عليه السلام پورې پکې ډير زيات مهم شخصيتونه پيدا شوی او د پيغمبرۍ مقام ته رسيدلی دی).**

وَطُورِ سِينِينَ ٢

**او قسم په طور سينا( چې الله تعالى پکې له موسى عليه السلام سره خبرې کړی او د پيغمبرۍ وياړ يې وربښلی دی).**

وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣

**او قسم په دې له امن نه ډک ښار(چې د ابراهيم عليه السلام د دعا په برکت پکې له دوه نيم زرو کالو راپديخوا پوره امن تينګ او د بشريت ستر لارښود محمد صلى الله عليه وسلم پکې زيږيدلی او د خاتم النبيين او رحمت للعالمين عالی مقام ورکړی شوی دی).**

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤

**( په همدغو مقدساتو قسم)چې انسان مو په ډيره ښکلې او احسنه بڼه( نظم او اعتدال) پيدا کړی( او بيا مو ظاهری او باطنی قوتونه او استعدادونه هم ورکړی دی).**

ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥

(بیا چې کله انسان خپل دغه قوتونه او استعدادونه په بده لار کې استعمال کړی نو الله تعالی یې هم په هماغه بده او له فساد نه ډکه لاره کې) د انحطاط او ذلت ټیټې درجې ته ورسوی.

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦

خو هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عمله هم دی، د تلپاتې او نه تمامیدونکی اجر او ثواب مستحق ګڼل کیږی.

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧

نو( ای انسانه! څه دربانديې شوی چې د دې ټولو دلایلو نه وروسته بیاهم) د جزا او سزا د ورځې له حقیقت نه منکریږې؟

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨

آیا الله تعالی تر ټولو ستر واکمن او ښه فیصله کوونکی نه دی؟( بلی - و انا علی ذالک من الشاهدین. چې په هیڅا ظلم نه کوی بلکه د قیامت په ورځ به له ظالمانو نه د مظلومانو حق او انتقام هم واخلی.)

«تمت سورة التین بفضل الله و رحمته»

======================